**بسم الله الرحمن الرحيم**

**چټک سیاسي بدلونونه**

**(ژباړه)**

**خبر:**

د جمعې په ورځ د یوې ناستې پرمهال ولادیمیر پوتین او د ایران ولسمشر، مسعود پزشکیان د ګډو پروژو، په ځانګړې توګه د اټومي انرژۍ په برخه کې د همکاریو پر دوام ټینګار وکړ. دغه خبرې په مسکو کې وشوې او موخه یې د دواړو هېوادونو تر منځ د ستراتېژیکې همکارۍ د تړون د لاسلیک لپاره تیاری و. دغه تړون د دفاعي همکاریو په ګډون ګڼې برخې رانغاړي، خو ټینګار شوی چې دا همکارۍ نه نظامي ژمنه ده او نه یې هم موخه د نورو هېوادونو ګواښل دي؛ بلکې د ګډ امنیت د پیاوړتیا او د انساني ارزښتونو د ساتنې لپاره طرحه شوې ده. (سرچینه: الجزیره نټ ۲۰۲۵/۱/۱۷)

**تبصره:**

د روسیې او ایران تر منځ دا ستراتیژیک شراکت تړون د ۲۰۲۵م کال د جنوري په ۱۷مه نېټه لاسلیک شو؛ واک ته د ټرمپ تر واک ته رسېدو درې ورځې مخکې او وروسته له هغه چې له سوریې څخه د دواړو هیوادونو لاسونه لنډ شول.

که څه هم روسیه او ایران یو پېچلی او له شخړو ډک تاریخ لري، اوسمهال د دوی اړیکې د باور او همکارۍ پر یوه نازکه کرښه ولاړې دي، چې هره شېبه یې د پای یا دوام احتمال شته دی. په ځانګړې توګه په داسې حال کې چې د روسیې او اوکراین جګړه لا هم روانه ده. روسیې په ۲۰۲۲م کال کې د ایران له «شاهین» ډرونونو څخه په اوکراین کې د پرمختګ لپاره ګټه واخیسته او اوس یې د دغو ډرونونو تولید په خپله خاوره کې پیل کړی دی. سربېره پر دې د ایران د بالستیک توغندیو پروګرام هم په دغه بهیر کې مهم رول لري. دا شرایط په ځرګند ډول ښیي چې ممکن روسیه پر اوکراین یو پراخ برید وکړي.

له بلې خوا روسیه له دغه تړون څخه د پام وړ ګټې ترلاسه کوي، په ځانګړي ډول هغه مهال چې ایران له امریکا سره د خرابو اړیکو او تېل شوو بندیزونو له امله دې ته اړ شو، چې د یوه لوی قدرت په توګه د خپل نړیوال وضعیت د ښه‌والي لپاره هڅه وکړي. سربېره پر دې ایران د روسیې لپاره د یوه باوري سیمه‌ییز شریک په توګه ګڼل کېږي. خو د ایران له اړخه دا تړون ځرګندوي، چې ایران د ټرمپ له بیا واکمنېدو او د صهیونیستي رژیم له ګواښونو څخه اندېښنه لري؛ په ځانګړې توګه وروسته له هغه چې بشار اسد، حزب الله او د ایران اړوند ملېشې له سیمې څخه ووتلې. بل لوري ته د روسیې-ایران تړون د اروپا لپاره یوه لویه ننګونه ده، ځکه چې دا د انرژۍ د هغو سرچینو د له لاسه ورکولو په معنا دی، چې اروپا د خپلو راتلونکو اړتیاو د پوره کولو لپاره ایران یو مناسب بدیل ګڼلی و. همدا وجه ده چې اروپا دا تړون د منځنې ختیځ او مرکزي آسیا په سیمه کې د روسیې او ایران د نفوذ د پراختیا د مخنیوي لپاره یو ګواښ ګڼي. دغه تړون ممکن د دواړو هېوادونو پر وړاندې نړیوال بندیزونه کم یا ان پای ته ورسوي او په نړیواله کچه د هغوی رول ته وده ورکړي. دا تړون روسیې ته فرصت برابروي چې د ایران له لارې د فارس خلیج او عمان سمندر ته لاسرسی پیدا کړي او د انرژۍ د صادراتو لپاره بدیلې غیرغربي لارې

جوړې کړي؛ په داسې حال کې چې ایران به هم د اورآسیا پراخو بازارونو ته لاسرسی ومومي. دا ترون ښايي په سیمه کې د راتلونکي اقتصادي او جیوپلیتیک نظم لپاره یو لوی ګواښ وي.

د امریکا نړیوال ځواک په ښکار توګه د کمزورۍ په حال کې دی، په ځانګړې توګه د هغې د ګډوډوونکو سیاستونو او هغو بحرانونو له امله چې ورسره مخ ده او همدارنګه د ګڼ شمېر هغو ناحل شوو ستونزو د شتون په سبب چې لا هم پرېکړې ته اړتیا لري، خو د دوی لخوا پرې پرده اچول کېږي. سربېره پر دې امریکا هڅه کوي چې اروپا وګواښي، چین کمزوری کړي او ډېر فشارونه پرې راوړي. په همدغه دلیل دغه هېواد له هغو وسایلو څخه کار اخلي، چې ممکن د خپل قدرت د زوال لامل یې شي. سربېره پر دې امریکا له جدي داخلي ستونزو سره مخ ده، په ځانګړي ډول له اورلګېدو او هغو ستونزو وروسته چې د بیمې د تاوان له جبرانولو سره تړاو لري. همدارنګه دا هېواد د یوه نړیوال مالي بحران په درشل کې دی، چې د اقتصاد او د اسعارو د ارزښت لپاره یې جدي ګواښ ګڼل کېږي. د دې مغرورۍ او طمع لرونکي مبداء د نسکورېدو وخت رانږدې شوی دی او له هغې څخه د بشپړ خلاصون لپاره باید یوه بدیله مبداء رامنځته شي. میدانونه دې ته چمتو دي، چې د اسلام د لوی ځواک د راپورته کېدو او په نړیواله کچه د هغه د عظمت د بیا راتګ شاهدان وي.

اې د نړۍ د هر ګوټ مسلمانانو! شرایط د اسلام د مبداء د بیا راتلو لپاره برابرېږي؛ نو له هغو کسانو سره یو ځای شئ چې د الله سبحانه وتعالی د شریعت پلي کولو او د اسلامي ژوند د بیا راګرځولو لپاره هڅې کوي! الله سبحانه وتعالی به خپل نور بشپړ کړي، خو انتخاب زموږ په لاس کې دی چې ایا د هغو کسانو په ډله کې یو چې ځای یې نور خلک نیسي او که د هغو په ډله کې چې یو ځل بیا خلافت تاسیسوي. نننۍ حالت د لومړني اسلامي دولت (د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دولت) د ظهور له وخت سره ډېر ورتهوالی لري؛ نو خپلې مټې بډوهئ او له هغو کسانو څخه نصرت وغواړئ چې ځواک لري، ترڅو ژر تر ژره د خلافت تاسیس ممکن کړو او عزت ترلاسه کړو او په دې توګه د الله سبحانه وتعالی دغه قول پر ځای کړو:

﴿...وَكَانَ حَقاً عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [روم: ۴۷]

***ژباړه:*** *«... او د مومنانو مرسته، زموږ پر غاړه ده.»*

**لیکوال: نبیل عبد الکریم**

**۲۰۲۵م کال د جنوري ۲۵مه**

**ژباړن: صهیب منصور**